رسول الله صلى الله عليه وسلم به هېڅکله څلور رکعته لمونځ د ماسپښين له لمانځه نه مخکې او دوه رکعته د سهار د لمانځه نه مخکې نه پرېښودل

له أم المؤمنين عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به هېڅکله څلور رکعته لمونځ د ماسپښين له لمانځه نه مخکې او دوه رکعته د سهار د لمانځه نه مخکې نه پرېښودل.
[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

عايشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هغې په کور تل نفلي لمونځونه کول او هېڅکله به يې نه پرېښودل: څلور رکعتونه په دوو سلامونو سره د ماسپښين له لمانځه نه مخکې او دوه رکعتونه د سهار د لمانځه نه مخکې.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/11249